دبخښت شهادت اسلامي ساعت‌سیم
تابرمردم گران بشیده پیامبر صلی الله علیه وسلم شادگانی باشد

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (۸۳۵) سال هفدهم ،شماره (۷۳) یکشنبه (۲۰) سنبله ۱۳۷۳ هـ ش ، (٦) ربیع الثاني ١٤١٥ هـ ق (١١) سپتمبر ١٩٩٤ م

قیمت (۱۰۰) افغاني (۲ روپیه)

دبغلان ولایت دلرخاب په ولسوالي کي دهماهنګي شوراځواکونو

دعبدالله غونډي فتح اودنظارشورا (٤٠) کسه پلویان ئې تسلیم کړل

بغلان – دوري ۱۹ مه :

دبغلان ولایت دلرخاب ولسوالي څخه دهماهنګي عالي شورا دوسلوالو ځواکونو عمومي قوماندانۍ خبرراکوي چي پرون دروان کال دوري دمیاشتي په ۱۹ مه نیټه دهماهنګي عالي شورا ځواکونودلرخاب په ولسوالي کي دعبدالله غونډي ترېوه بریالي بریدلاندي ونیوه چي په نتیجه کي نوموړي غونډي فتحه اودنظارشورا ٤٠ کسه پلویان له خپلودرندواوسپکو وسلوسره دهماهنګي شوراځواکونوته تسلیم شول .

خصومت میان قانوني ومسعود شدت گرفت

کابل – ۱۷ سنبله :

اختلافات میان یونس قانوني رئیس نام نهاد امورسیاسي وزارت دفاع واحمدشاه مسعود سردسته باند شوراي نظارشدت گرفته است .

منابع موثق درداخل حلقات اداره ائتلافي گزارش دادند: اختلافات میان طرفین ماه هاسابقه داشته واخیراً شدت بیشترکسب کرد وبه تخریب همدیگر پرداخته اند.

درخبرآمده است گرچه مخالفت میان قانوني ومسعود ریشه عمیق دارد اماشکست هاي اخیر تفنگداران اداره ائتلافي درجبهات نبرد که موقف هردوطرف متخاصم را متزلزل کرده است در تشدید اختلافات شان بي تاثیرنیست .

به تعقیب عملیات پیروزمندانه مجاهدین شوراي عالي هماهنگي :

شهرخنجان ونواحی آن فتح شد

بغلان – ۱۸ سنبله :

شهرخنجان واطراف آن به شمول درهٔ ولیان ازوجودتفنگداران آشوبگرادارهٔ ائتلافي پاکسازي شد و مجاهدین درحال پیشروي به جانب سالنگ میباشند .

منابع جهادي ازولایت بغلان خبردادند : روز جمعه آخرین پایگاه نظامي ماجراجویان در شهرخنجان درهم کوبیده شدو نیروهاي شکست خوردهٔ ادارهٔ ائتلافي پابه فرارگذاشتند .

طبق گزارش : نیروهاي فاتح شوراي عالي هماهنگي ،تفنگداران شکست خورده رابه استقامت سالنگ تعقیب نموده تانزدیکي هاي تونل سالنگ شمالي پیش روي نموده اند درین گزارش که روزجمعه مخابره شده آمده است که مجاهدین،منطقهٔ تخته سنگ را آزاد نموده به جانب سالنگ درحال پیشروي میباشند، این منطقه در امتداد شاهراه سالنگ – بغلان قرارداشته و ۱۲ کیلومتردورترازتونل سالنگ موقعیت دارد ،مجاهدین درحال پیشروي بوده وجنگ در منطقهٔ « چندراه» جریان دارد .

ص (۳)

دمحترم ډاکتر "غیرت" په مشري :

دحزب اسلامي یولوړرتبه هیئت مزارشریف ته ورسید

مزارشریف – دوري ۱۹ مه :

دبلخ ولایت مرکز مزارشریف څخه رارسیدلي خبرونه وایي چي ورمه ورځ دحزب اسلامي یولوړرتبه هیئت دحزب اسلامي دسیاسي چارودکمیسیون دغړي محترم ډاکترغیرت «بهیر» په مشري مزارشریف ته ورسید .

خبرڅاي لیکي پدي هیئت کي چي دحزب اسلامي دشهادت ورځپاڼي آمرمحترم سید عمرواعزامي » ،دپیام آزادي درادیوتلویزیون رئیس محترم محمدنذیره بشارت» ، دمالي کمیټي دمالي آمریت مسئول محترم علوي ، دحزب اسلامي دارتباط مدیرحیات الله «وحدت » ، اودسیاسي چارودکمیسیون دتشریفاتومدیر محمدمنیر برخه درلوده ورمه ورځ دمزارشریف په هوایي ډګرکي ددوي دسپرلي الوتکه راکوزه شوه اوبه نوموړي ډګرکي دملي اسلامي جنبش دبهرنیوچارو درئیس جنرال عبدالمالك له خواورته تودهرکلي ووېل شو.

خبرڅاي لیکي چي وروسته نوموړي هیئت دخیرتانو په ښارګوټي کي په هغه میلمستیا کي برخه واخیسته چي سترجنرال عبدالرشید دوستم له خواورته ترتیب شوي وه .

(۳)مخ

(٦) صهیونیست کشته یازخمي شد

بیروت – ۱۷ سنبله :

جنبش انقلابي حزب الله لبنان اعلام کرد یکي از رزمندگان این جنبش روزپنجشنبه درحمله به یك گروه گزمه رژیم صهیونستي درمنطقه اشغالي تلوسه در جنوب لبنان به شهادت رسید.

به گزارش رادیوي ایران درین حمله همچنان ٦ صهیونیست ازجمله یك افسر کشته یازخمي شدند .

مناطق وسیعی درولایت لوگرازوجود آشوبگران پاکسازی شد

پل علم ۱۹ سنبله :

چندین موضع مستحکم دشمن درولایت لوگر بدست پرتوان مجاهدین فتح گردید .

یك منبع جهادي ازولایت لوگر خبرداد،پوسته هاي میرابدال که جمعاً چهارپوسته ودرنقاط حاکم جابجا شده بودند کاملاً فتح گردیده ، منطقه بیربلند وپوسته هاي اطراف وسرکوهي آن تصفیه شد . همچنان نقاط حاکم ازمنطقه شیروازه تا خشك کوه کاملاً

ص (۳)

دتاجکستان مسلمانو مبارزینو :

ددوشنبې په ختیځ (۱۵۰) کیلومتري کي دتحویلدري ستراتیژیک ښارونیو

دوشنبه – دوري ۱۹ :

دتاجکستان مسلمانو مبارزینو په تازه جګړوکي دهغه جمهوریت په مرکزکي یومهم اوستراتیژیک ښارنیولي دي .

ریوټونه وایي مسلمانو مبارزینو دتاجکستان دپاي تخت دختیزیه (۱۵۰) کیلومتري کي دتحویلدري ښارونیو .

دروس پوځي منابع وایي چي یوشمیر حکومتي عسکریدي جګړوکي ووژل شول داجګړي په داسي وخت کي رامینځ ته شوي چي ددواړو خواوو استازو په ایران کي دجګړي دختمولوخبري له سره پیل کړي .

بنام خداوند بی اندازه مهربان ونهایت بارحم است

سرمقاله

په اسلام آباد کي داسلامي کنفرانس سازمان په اړه یوازي پریکړه لیکونه ،ستونزي حل کولاي نه شي

پرون دجمعي په ورځ داسلامي هیوادونو دبهرنیو چارو دوزیرانودري ورځني غونډي چي په اسلام آباد کي دایري شوي وې پاي ته ورسیدي .

ددغي اضطراري غونډي په آخرکي چي داسلامي کنفرانس دسازمان اوومه غونډه وه دڅیکمرغه یوشمیر پریکړي په اتفاقي ډول تصویب اودکنفرانس دمنشي حامدالغابد او دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر سرداراحمد علي له خوا دمطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کي اعلان شوي .

په دغوپریکړو کي پرنورو سربیره داهم شاملي وي.

– په بوسنیاهرزگوینا باندي باید دوسلي بندیز لیري کړاي شي، که داکارملګري ملتونه ونه کړي نو اسلامي هیوادونه به پخپله دغه هیوادته هغه څه ورکړي چي نورو پري بندکړیدي .(له دي جملي څخه مرادوسلي دي)

– هندباید په کشمیر کي خپل ظلمونه پاي ته ورسوي اودغه ربړه دخبروله لاري حل کړي (پدي هکله دارتباط یوه کمیټه هم وټاکلي شوه)

– په افغانستان کي باید ژرترژره اوربندوشي اواسلامي کنفرانس خپلي دسولي هڅي له سره پیل کړي .

– ارمنستان باید داذربایئجان ټوله نیول شوي خاوره پریږدي او ...

دغه پریکړي له دي امله چي تقریباً په اتفاق سره تصویب شوي اوظاهراً داسلامي هیوادوګډموقف او دپردوپه وړاندي یودریځ څرګندوي دقدراوتائید وړدي زموږ داسلامي امت غوښتنه اوارزو هم تل داده چي اسلامي هیوادونه اواسلامي نړي سره نږدي اویومتحد اومرصوص صف جوړکړي اوکه داکاروکړي نوبیا به دهیڅ کفري هیوادزورېري ونه رسیږي الله تعالي به هم دنړي واکمني همدوي ته سپاري .

خوحقیقت دادي چي اسلامي هیوادونه هغه څه چي په ژبه زمزمه کوي عمل بي تري خورازیات واټن لري،همداوجه ده چي دغه ډول پریکړوته که څه هم اتفاقي دي اوپه کنفرانس کي دشریکودولتونو واکمن حکومتونه تري دځان په ګټه سه تبلیغاتي حربه جوړوي، ولي هیله مندي ورته نشي کیداي ،ځکه چي تردي نه مخکي هم ډیري غونډي اوپریکړي شوي چي لاتراوسه هماغه شان دکاغذ پرمخ پاتي دي اودعملي کولو په لوري یې حتي یوګام هم نه دي پورته کړاي شوي.ددي عمده اوغوره علت دادي چي په دغه هیوادونو(اسلامي نړي) کي دملتونودخوښي حکومتونه نشته اوبالااستثناویلاي شوچي په اسلامي هیوادونوکي ټول واکمني حکومتونه یاپه زورپه خلکوتحمیل شوي اویا خوښي دځان له ویري دپردیو په اشاره کارکوي،اوکله هم چي دهغوي (داستعمارچیانو) له خوښي پرته ګام پورته کړي نوله منځه ځي .مطلب داچي په دغه کنفرانس کي اصلاً دخلکو اوملتونونمایندګان برخه نه لري ځکه یې پریکړي هم نه عملي کیږي .

(۳)مخ

به تعقیب عملیات پیروزمندانه مجاهدین درولایت کندز :

منطقهٔ وسیعی ازتسلط تفنگداران ادارهٔ ائتلافی آزاد شد

کندز – ۱۷ سنبله :

یك منبع موثق جهادي ازولایت کندزخبرداد : درعملیاتي که براي رهایي اهالي مظلوم قراي حاجي خان شیرین،سوشم تپه ، وکیل قره وچندقریه دیگرمربوط مرکزولایت کندز آغازشد بعداز چندساعت محدود موفقانه پایان یافت .

درگزارش آمده است درین عملیات پیروزمندانه که بعدازظهرروز پنجشنبه انجام شد افضل ودرمحمد دوتن ازقوماندانان اداره ائتلافي با(۳۰) نفرازتفنگداران شان اسیرشده، (۵۲) میل کلاشینکوف ، (٦) میل راکت، ۲ میل ماشیندار پیکاومقداري مهمات بدست مجاهدین افتید.

دبرژزېه دیوشمیرپی‌طرفه افغانانویوه‌لویه شورا جوړه شي

اوکیلو

دوري ۱۸ نیټه :

دافغانستان له پاره دملګروملتودسولي دهیئت نطاق فرانسس اوکیلو دیوي مرکي په ترځ کي ویلي چي دسولي دهیئت دکارپه دریمه مرحله کي به دیوشمیر مستقلو افغانانونه یوه مشورتي دله جوړه شي چي دوي به دسولي دهیئت سره په افغانستان کي ددائمي یوي جرګي دجوړولوله پاره کاروکړي چي دټول ولس نمایندګي وکړي .

اوکیلووویل دملګروملتوعمومي منشي بطروس غالي دسولي دهیئت اوهمدارنګه دافغاني مشرانو سره دخبرواترونه وروسته اعلان وکړچي

(۳)مخ

گزارشی ازمجلس فاتحه‌خوانی داکترعبدالعزیز مجیدی رئیس پوهنځی طب پوهنتون اسلامی

داکترمجیدي دربرقراري روابط ویژگي ودرعلوم ساینسي نبوغ داشت

داکتر فیض الله "کاکر"

ص (۳)

دحزب اسلامي دمطبوعاتي کمیسیون مشر استاد قریب الرحمن "سعید" له بي بي سي سره په مرکه کي :

که ائتلافی اداره دهماهنګی دعالی شوری غوښتنې ونه‌منې دسختواوجدي تحولاتو انتظاردې وباسي

(۳)مخ

دشمالي سالنگ ترتونل پوري دهماهنګي دعالي شورا ځواکونه بشپړکنترول لري

دهماهنګي دعالي شورا ځواکونه دخنجانو له نیولو وروسته (۳۰) کیلومتره مخکي ددوشاخ سیمي ته رسیدلي

بواځي دداکترفضل الله دبرکي راجان کلي تصفیه شوي نه دي اوډیر ژربه ان شاءالله تصفیه شي

بعداز انفجار نیروگاه اتومي چرنوبیل :

موارد ابتلا به سرطان در روسیه سفید افزایش یافته است

منسك – ۱۷ سنبله :

موارد ابتلا به سرطان درروسیه سفید اززمان انفجارنیروگاه اتمي چرنوبیل درین کشور بیست برابر شده است . گزارشي که روزجمعه درآلمان منتشر شده است :طبق آخرین آمار، موارد سرطان وبعضي بیماري هاي دیگر درین کشور بخصوص درمیان کودکان افزایش یافته است .

گزارش همچنین حاکیست: براثر انفجارنیروگاه اتمي چرنوبیل درسال ۱۹۸٦ میلادي بسیاري ازاراضي روسیه سفید به مواد رادیو اکتیف آلوده شده است .

متخصصین تعداد افرادي راکه درمناطق آلوده به مواد رادیو اکتیف زندگي مي کنند بیش از دوملیون نفر خوانده است .

جلسهٔ دو روزهٔ OIC باصدوربیانیه یي به پایان رسید

جلسه سه روزه سازمان کنفرانس اسلامي دراسلام آباد باصدوربیانیه اي درمورد قضیه کشمیر وبوسنیا هرزگوینا به پایان رسید .

ومسئله افغانستان نیز درین کنفرانس مطرح شد .

این سازمان که ٥١ عضودارد میگوید اگرملل متحد تحریم ارسال اسلحه به بوسنیا را لغونکند باید به این سازمان اجازه داده شود تا به بوسنیا اسلحه بدهد .

دربیانیه ، سازمان کنفرانس اسلامي درمورد دعواي متازعه میان پاکستان وهندخواستارشدکه مقامات هندبه نقض حقوق بشردرکشمیر خاتمه دهد . دربیانیه این سازمان تاکیدشده که این

ص(٤)

سخن روز

فتح خنجان

یاپایان عمراداره ائتلافي

احسان الله « مجاهد »

سرانجام بعدازیك جنگ طولاني که تقریباً چندماه بدرازاکشید روزجمعه گذشته (۱۸ سنبله ۱۳۷۳ خورشیدي) منطقه استراتیژیك «خنجان» ازلوث تفنگداران اداره ائتلافي پاکسازي شد.خنجان حیثیت دروازه وورودي صفحات شمال کشوررا دارد وبه همین دلیل مسعودورفقاي جنگ افروز اوتلاش میتمودندباتداوم حلقه شان درین منطقه جلونفوذ وپیشروي قوت هاي شوراي عالي هماهنگي رابطرف کابل مسدودنمایند .فتح خنجان توسط نیروهاي شوراي هماهنگي مبین آنست که اداره ائتلافي توانایي رزمي خودرا ازدست داده ودرسراشیب شکست قرارگرفته است .

بافتح خنجان ومضافات آن ازیکطرف ارتباطات اداره ائتلافي بامناطق تحت کنترولش درتخار،بدخشان وکندز قطع گردیده وروحیه تفنگدارانش درآنجاکلاً پژمرده وضعیف میشودازطرف دیگر راه پیشروي وتصفیه به روي نیروهاي فاتح شوراي هماهنگي بسوي ولایات پروان - کاپیسا وشهرکابل گشایش خواهد یافت .

خنجان براي اداره ائتلافي به عنوان یك منطقه قابل اهمیت واستراتیژیك مطرح بود، چه ازهمین طریق میتوانست کمك هاي ارتزاقي ،نظامي و ...روسهارا به کابل انتقال داده تفنگدارانش راازتهدید گرسنگي ومرگ نجات ببخشدولي حالاکه این شانس را ازکف داده واضح است که دروضعیت وخیمي قراردارد .

اداره ائتلافي زمانیکه درزمستان سال گذشته (۱۳۷۲ هـ ش) خنجان رامحت تسلط خود درآورد ونیروهاي شوراي هماهنگي ازآنجا مجبور به عقب نشیني شدند مصمم بود بسوي مرکز بغلان وشهرپلخمري پیش قدمي نموده جبهات حزب اسلامي را در شمال به محاصره بکشاند امامقاومت غیورانه وبي سابقه مجاهدین حزب اسلامي تحت قومنده مامور عبدالغیور وقوماندان بشیرخان درمرکز بغلان وثبات وپایمردي نیروهاي مشترك شوراي هماهنگي درولسوالي دوشي ، لرخاب و... به مسعود ورفقاي مهاجمش نشان داد که ازراه اعمال زور ولشکرکشي هرگزنمي توانندبعزائم بدخواهانه شان پیروز گردند.

تحرکات جنگ افروزانه اداره ائتلافي به سرکردگي مسعود درصفحات شمال کشور نه تنها براي گردانندگان آن بارورثابت نشد ونتوانستند باگزینش راه جنگ واعمال زور به اهداف سخیف ونامیمون شان دسترسي پیدا کنند بلکه تداوم حملات ارهابي وخشونت بارایشان بالاي مناطق مسکوني وبخاك وخون کشانیدن مردم مسلمان وبیدفاع قرا،قصبات وشهرهاي خنجان،دوشي ،بغلان و... باعث شد تامردم بصورت یکپارچه برضدآنهاقیام نموده ازموقف برحق واصولي شوراي هماهنگي دفاع نمائید، تفوق و برتري شوراي هماهنگي درصفحات شمال کشور بخاطرآنست که مردم یکصدا ویکدست از خط مشي صلح جویانه نیروهاي رزمي این شورا حمایت میکنند. اگر اداره ائتلافي آنچنانیکه ادعامي نماید درپیش مردم محبوبیت میداشت ونیروهاي جهادي مطرح درسنگرهاخواهان استحکام ودوام عمرآن مي بودند هیچگاه باچنین شکست ورسوایي که اکنون طعم تلخ آنرا مي چشد مواجه نمي گردید، روگرداني واظهارتنفر مردم ازپالیسي هاي نادرست وجنگ افروزانه اداره ائتلافي بخوبي مي رساندکه گردانندگان آن مورد تایید ملت نبوده وباید ازصحنه کناروروند.

فتح خنجان ، تصفیه ولایت لوگرازشرآشوبگران اداره ائتلافي وعقیم ماندن پلانهاي ناجوانمردانه عمال مسعود درلغمان ،همه گویاي این حقیقت است که اداره ائتلافي هویت کاذب اش نزدمردم افشاگردیده وبابرنامه هاي ارهابي وخشونت بارآن هیچکسي همراهي نخواهد کرد.

فتح خنجان نوید دهنده آنست که عنقریب گلیم آشوب گري اداره ائتلافي برچیده شده ملت محروم ومظلوم افغانستان از شرتفنگداران ماجراجو، جنگ طلب ومغروروزیر فرمان مسعود و... نجات خواهند یافت .

مسعود ورفقایش فکرمیکردند که باخریدن تپه بالاحصار ،مخالفین خودرا ضعیف وناتوان ساخته وبدین ترتیب اقتدارخیالي آقاي رباني باقي وجاري میماند، بي خبر ازآنکه اکثریت احاد ملت ازروش جنگ طلبانه اداره ائتلافي بستوه آمده وخواهان کناررفتن گردانندگان آن ازصحنه مي باشند .

بافتح خنجان تمام راههاي اکمالاتي اداره ائتلافي مسدود گردیده وپیشبیني مي شودکه ممکن مردم کابل دربرابر تداوم این وضعیت خاموش نمانده وبرضدرژیم غاصب وغیرقانوني رباني علم مخالفت رابلند نمایند. مسلماً اگرمردم درمقابل خودکامگي هاي اداره ائتلافي مخالفت نشان ندهند وباراه اندازي تظاهرات وراه پیمایي هاي خیاباني ازوي مطالبه نکنند که صحنه راترك بگوید احتمالاً زمستان سختي توأم باگرسنگي وقحطي زندگي مردم این شهرراتهدید خواهد کرد .

راه برون رفت ازحالت ناهنجار موجودکه یقیناً هرهموطن مسلمان ماازآن احساس رنج مینماید فقط درکناررفتن اداره ائتلافي ازقدرت میباشد. باکناررفتن اداره ائتلافي وتشکیل یك اداره قابل قبول براي همه گروههاي احزاب جهادي بدون شك آرامش وثبات درکشورجنگ زده وویران ماسایه افگنده ملت محروم ودردمندافغان ازسیه بختي وبي سروساماني کنوني نجات خواهند یافت .

حزب اسلامي ونیروهاي متحد آن علي الرغم تفوق رزمي وفتوحات پیهمي که قدم بقدم به آن دست مي یابد، طوریکه بارها اظهارنموده بازهم اعلان مینمایدکه خواهان تداوم جنگ نبوده وترجیح میدهدکه بحران جاري کشورازراه مذاکره وتفاهم حل وفصل شودولي متأسفانه اداره ائتلافي که بقاي خودرادرجنگ وستیزه جویي مي پندارد به این پشنهاد معقول واصولي حزب اسلامي پاسخ منفي ارائه نموده درتلاش آنست که بااشتعال انگیزي وتعمیم روش نکوهیده اختناق وترور چند صبایي دیگرداریکه قدرت باقي بماند.

□ □ □ □ □ □ □ □

استاد قريب الرحمن سعيد

دوهمه برخه

خو بدبختانه کله

چې دغه دري تنظیمونو گډ هیئت چې په کې مولوي صاحب محمدي ، ایت الله محسني ،اوحامد گیلاني شامل وو کابل ته ددوو ورځو په خاطر ددي له پاره چې رباني -سیاف قانع کړي ترڅودکمیسیون له پاره ځپل غړي معرفي کړي ،پخپله د دوو پوهانو په لومه کې گیرواغلل اودهیئت رئیس مولوي محمد نبي محمدي بې ترې وگرځاوه .

،پخپله مولوي صاحب محمد نبي محمدي چې یو عالم او مجاهد شخصیت دي اودځو کالو دیه کوو کښیناستوورووسته دځینو حلقو په واسطه دي ته وهڅول شو چې متحرك شي اوهیواد ددغه بحران څخه دایستلو په لارکې تعاون اوهمکاري وکړي. مولوي صاحب محمد نبي محمدي په داسي حال کې چې پخپله داستاد رباني دحکومت څخه تل لري پاته شوي او په هغې بې تل انتقاد کړي خو دهغې نژدې ملگري تل داستاذ رباني ترڅنگ پاته شوي اودهغې له پاره یې هرډول فداکاري کړې .

خو په هرصورت ولس دمحترم مولوي صاحب اوسنيو هلو ځلو ته دامیدسترگې درلودې خوکله چې په کابل کې پوهاندانو دهرات دغونډې‌دلوبې لړۍ ته دسیاسي کمیسیون اولويي جرگې دجوړښت له پاره کاربیل کړ نو مولوي صاحب محمدي یې دهغې رئیس وټاکه اوپخپله مولوي صاحب هم هملته دهمدې سیاسي کمیسیون دکار ددوام په خاطر پاته شو. چې دغسي کار دمولوي صاحب بې طرفي په شك کې

واچوله اوهغه اعتماد چې دمقابل لوري ورته پیداو هغه هم جریحداروگرځید . زمونږ دواړه پوهان دهرات دغونډې څخه غواړي دحل وعقد دوړامي په څير بوه داسي ډرامه جوړه کړي چې ملت په کې تل په مصیبتونو اوکړاوونو کې اخته وي . هغوي غواړي د سیاسي کمیسیون دکار په پیل کیدو دملگروملتونو ،اواسلامي کانفرانس دسولې پروسه ورخرابه کړي اودمولوي صاحب محمدي په تم کیدو ددغه دري تنظیمونو ترمنځ اختلاف راپیداکړي دبلي لوري پخپله مولوي صاحب تطمیع کړي ،اوهملته یې دسیاسي

اوپه ځانگړي توگه د حزب اسلامي په خلاف دنظار دشورا او دپخواني کمونیست رژیم باقیات داسلامي اردو په څير دنوموړو ترڅنگ په ځپل قوت سره پاته شي اوپه دي ترتیب به دحزب اسلامي په خلاف دعلماو یوه ډله ترتیب اوپه واکمني کي راوړي ترڅو ددي حزب په خلاف دسازشونو یوه بله لړۍ پیل کړي دبلي لوري به نه یواځي افغان ولس بلکه دټولې نړۍ په سترگو کي هم خاوري وروشیندي اودبې طرفه حکومت په نوم به داڅول خلك دقدرت په گدي کښینوي څو اصل واکمني به ددوي سره وي . دهمدې

په دي ترتیب په کابل کي ناستو پوهانو دځپل دغه ټرت په واسطه په یوه غشي دوه هدفه وويشتل .اوهغه داچي له یوي خواپي ټهد دري تنظیمونو گډې هلي ځلي ورشنډي کړې اودبلي لوري یې دهرات دغونډې جوړشوي کمیسیون پرې په رسمیت وپیژاند .

ځرگنده ده چې ددغه کمیسیون [illegible] په دلانجي دلاکړکیچولو پرته بوڅه [illegible] وتلري ، خو هغه څه چې باید [illegible] اودحل له پاره لاره پیدا کړي هغه دیوه گډ اومشترك کمیسیون جوړښت دي چې ټولي خواوې په کې گډون وکړي په دغه

زمونږ ولس اوس دجنگ نه پوره ستومانه دي . دولس حوصله هم نوره ددغې تباه کوونکي جنگ په اوږدیدو سره دخلاصیدو په لورده ، دهجرت لړۍ ورځ په ورځ زیاتیږي ، دافغان ولس حیااوعزت یادتورخم په دروازو کي اوبا په کمپونو اوبازارونو سودا کیږي .

په دي اساس دي ته اړتیا ده چې ددي ولس دقیادت درامتځته کولو اوتاکلو په خاطر دهمدي ملگرو ملتونو ترنظارت لاندي یوه انتخابي اسلامي شورا جوړښت وموعي .دولس ټولي پرگنې ،غریب اوخان ،قوماندان او مهاجر په دي انتخاباتوکي برخمن وگرځي. اودځپل زعیم په ټاکلو کي دځپلي خوښې ایکې یوه رایه استعمال کړي . اوپه دي ترتیب ولس ددغه غم اومصیبت نه ولك حالت څخه د روښنایي اوزغالوري ته وکاږي . دملگروملتونو سره دیوي مثلي اودقبول وړ پروسې باندي بحث وشي اوهغوي تشویق شي چې ،تهدید ونو اونوروستونزو په هکله اسنوار پاته شي . ځکه په همدغې ثبات کي خیر دي .

اوددي ثبات اوتعاون پرته بله کومه لار هم په نظر نه راځي . ددي ترڅنگ مولوي صاحب محمدي باید ځپل شخصیت دیوي متعصبي ډلي په ځنگ کي دوریدلو په خاطر متضرر نکړي. ځکه هغه څه چې دغه ډله یې اوس کوي هغه دملت له خوامسترد کړل شوي ، باید محترم مولوي صاحب سمدستي دسیاسي کمیسیون ترنامه لاندي دغه غونډه تحریم کړي اوځپلو بې طرفانه هلو ځلو ته دوام ورکړي ، ترڅو دملگروملتونو دپروسې ترڅنگ دغه جهادي قیادتونه ځپل مهم رول اداکړای شي.

په کابل کې دمولوي صاحب محمدي دتم کیدو اودسیاسي کمیسیون دریاست دمنلو نه وروسته اوس :

دملگروملتونو هلې ځلې کومې لورې ته درومي !

استفادي په خاطر په ځپل موقف کي وساتي . دبلې لوري دواړه پوهان پردي فکرکي هم دي چې دنظامي ماتي په صورت کي به مولوي صاحب داخري کارت په څير استعمالوي . دپروگرام اووعدو مطابق دوي باید اقتدارلایخوامولوي صاحب ته انتقال کړي وا ي. ځکه داستاد سیاف اومسعود نظر داوو چې دهماهنگي دشورا په خلاف استاد رباني درست اوصحیح فکتور استعمال نه شو کړای ،اوس که هغوي غواړي واکمني یې دوام وکړي باید له مولوي صاحبانو څخه یومنځنه راوړي. ددي څخه یې هدف داو چې په دولت کي به دتاجکیزم پرابلم هم ختم شي اودبلې لوري به هماهنگي دشورا

کارله پاره دوي تیاري نیسي . ددري تنظیمونو کوم هیئت چې کابل ته تللي وه په دي خاطر یې هلته معطل کړ چې داستاد رباني دویئا په اساس یو وپرسترتحول په لنډ وخت کي راتلونکي و اوهغه تحول دحزب اسلامي دمشرالجنیر حکمتیار په کوردېونو اوروول وه . خو دابروگرام یې چې کله ناکام شو نو سمدستي یې دهیئت غړي دیوه یې واکه لیك سره دمولوي صاحب محمد نبي په ستنیدوپاکستان ته راولیږل اوپخپله مولوي صاحب یې دهرات دهغه غونډي په واسطه دجوړشوي کمیسیون مشروټاکه چې پخپله مولوي صاحب هغه مسترد کړي و.

غونډوکي تراوسه پوري نه خوداستاد رباني او نه استاد سیاف کوم نماینده گډون کړي . دمحمود مستیري ثلاشونه داسي برېښي چې دشنډکیدو سره مخ دي چې ددي شنډیدو عوامل هم پخپله دائتلافي اداري دمسئولینو لخوا برابریږي .

خو اوس به دادملگروملتونو اواسلامي کانفرانس پوري اړونده وي چې هغوي دغه پروسه چې پوره اوږدوخت یې پرې کاروکړي همداسي شنډه پریږدي ترڅو دافغان ولس دغه خونړي ځپل منځي جنگ دافغانستان دولس دپوره ختمیدو پوري دوام وکړي اوکه تصمیم ته ونیسي ترڅوپه قدرت کي ناست واکمنان دي ته وهڅوي چې واکمني ولس ته وسپاري.

صفیر

چنین مرسوم گردیده که هرکه تاقبل ازسقوط رژیم کمونست به پاکستان ویاایران گام گذاشت ،مهاجرتلقي شود. چون هجرت مترادف جهاداست نامبرده رامجاهدنیزبایدگفت که متاسفانه مفاهیم مهاجرومجاهد غیرازچیزهایي است که درذهن عده اي تداعي مي شود .

اسلام عزیز براي هجرت وجهاد احکامي داردکه جاي هیچگونه تلبیس وتخدعه رابازنمي گذارد ، معناي ساده هجرت عبارت ازنپذیرفتن حاکمیت کفر است وروي این ملحوظ مهاجرکسي است که بخاطر خداوند (ج) راه دشوارهجرت ازهمه تعلیقات ودلبستگي هارا با آرامش خاطرپیش مي گیرد وهدفش آن است که درمحیط هجرت خودش رابراي مقابله باغاصبان کافرآماده ساخته ودوباره وطن مألوفش را به نفع حاکمیت دین اسلام آزاد سازد. بناً مي توان اورامهاجروهم مجاهد خواند .

اکنون مي بینیم که ازمفاهیم مقدس هجرت وجهاد چگونه سؤاستفاده مي شود. چگونه مي توان انساني را مهاجر ویا مجاهد خواند که دست به دامان سیاه غرب وامریکا ویاسازمان هاي به ظاهربین المللي آنان دوخته است وازآنان توقع خبردارد ؟

دریکي ازجراید متعلق به مطبوعات ضاله نوشته یك ژورنالیست مسلکي افغان (به گفته خودش) توجه نگارنده را جلب نمودکه آن آقاباشوروشعف فووان ازآماده گي وزارت خارجه ایالات متحده امریکابراي حل سیاسي مسئله افغانستان استقبال نموده وبارقه امید برایش دست مي دهد. اومعتقداست که :" حل معضله افغانستان تطبیق توافقات ژنیوراایجاب مي کند ."

این افغان حق شناس (به گفته خودش) ازنقش سازنده ایالات متحده امریکادرقبال افغانستان سپاسگذاري نموده واعاده استقلال سیاسي، حاکمیت ملي وتمامیت ارضي افغانستان را مرهون سهم همه جانبه ونقش بزرگ آن دولت مي داند .

نگارنده زماني که درپوهنتون کابل محصل بودم یکي ازاستادان که اکنون دراروپا اقامت دارد در اتاق امتحان تأکید داشت که استقلال افغانستان درسال ۱۹۱۹ میلادي مرهون انقلاب اکتوبرکبیراست . کمونیست هاهم هجوم وحشیانه ارتش سرخ راضامن استقلال سیاسي ،حاکمیت ملي وتمامیت ارضي افغانستان قلمداد مي کردند . نمیدانم براي یك مسلمان چه فرقي میان روسیه ،چین ویاایالات‌متحده امریکا وامثالهم وجود دارد ؟

روس هامارا کشتند وهنوزهم ازقتل ملت ماسیرنه گردیده اند ولي امریکایي ها سایرمسلمین را بوسیله یهود ، هندو

"سگ زرد برادرشغال است"

،صرب وکروات به گناه مسلماني قتل عام مي نمایند .

پنج ملیون مهاجر واکثریت ملت به زبانحال وقال گواهي میدهند که امریکا به داعیه برحق ملت ماخیانت کرده است. ایالات متحده امریکابه اعتراف خودژورنالست مسلکي وافغان حق شناس « به هربهانه» وبه هرعلتي که بود » به مسئله افغانستان علاقه ودلچسپي نشان داد،طوریکه تجربه به اثبات رسانیده وبارها گفته شده است براي یك باردگر باید خاطرنشان گردد که هدف امریکا وغرب شکست روس ها بودنه پیروزي مجاهدین . آناني که گمان میکنند تنهاهدف مجاهدین شکست روس هابود سخت اشتباه کرده اند . پیروزي مجاهدین منوط ومربوط به استقرارنظام اسلامي، تحکیم ودفاع آن درافغانستان بود. چنانچه به ملاحظه مي رسد هنوزاین مأمول شریف وسترگ برآورده نه شده وادعاي پیروزي مجاهدین نیز پیش ازوقت تلقي مي گردد .

گفتیم امریکا به ملت ماخیانت کرده است واین راهم بایدافزود که توقع ازامریکاهمچنانکه ازلحاظ اعتقادي بامباني واساسات ایدیولوژیکي اسلام منافات دارد ازدیدگاه منطق نیز دال برحماقت است .

امریکا وروسیه بازمینه سازي عقد معاهده ژنیو تصمیم اتخاذ کردند که ازپیروزي حقیقي مجاهدین یعني سقوط مستقیم رژیم کمونست نجیب بوسیله مجاهدین واستقرار حاکمیت اسلامي عملاً جلوگیري نمایند. معاهده ژنیو درست منگ تهداب فجایع امروزي ومصیبت هاي ناشي ازآن درآینده ملت ماست .به اعتراف خود آقادراین معاهده طرفهاي اصل قضیه افغانستان که عبارت ازروس هاومجاهدین بوده اند، اشتراك نه ورزیده بودند. خواست روس هاآن بود که رژیم مزدورش درکابل به رسمیت شناخته شودوهدف امریکاآن بودتاباواردکردن فشاربالاي پاکستان ازنقش بنیادي مجاهدین درقضیه افغانستان انکارنماید.لذا معاهده میان اطرافي منعقدگردید که هیچگونه نقشي درقضیه دروني افغانستان نداشتند، حکومت پاکستان ورژیم مزدوروتحت الحمایه روسیه درکابل درپاي معاهده ژنیو امضا کردند وامریکا وروسیه به عنوان قیم وضامن به تایید آن پرداختند. معاهده ژنیو

بزرگ ترین توهین به ملت بزرگوارما بود ونتیجه آن اادامه حاکمیت کمونست هابراي پنج سال دیگر وقتل وویراني هرچه بیشتردرافغانستان بود .از نتایج شوم همین معاهده درداخل کشوردست به کارشده وبراي جلوگیري ازپیروزي قاطع مجاهدین وایجاد حکومت اسلامي با برخي ازمترصدین وفرصت طلبان داخل صفوف جهاد درتماس گردیدند . معاهده ژنیوباعث دلگرمي وتشجیع کمونیست هاگردید، نجیب مصالحه ملي ویادرحقیقت توطیه ملي رااعلام نمود ورسماً خواستار حکومت ایتلافي درافغانستان گردید .

کرسي وزارت دفاع براي احمدشاه مسعود ازهمان آغازمدنظرگرفته شدوبالاخره باانعقاد معاهده نامقدس ونتگین جبل السراج حکومت بااداره ایتلافي که متشکل ازکمونیست هاي سرشناس وبرخي تشنگان قدرت ومنسوب به مجاهدین بود، بمیان آمد ونتیجه آن را همه هموطن مسلمان من وتو تاامروزباگوشت، پوست وخون خود درك ولمس مي نماید.

بهرحال خدمت مجموع این حق شناسان ومسلکي هاي افغانستان!! عرض نمایم که سگ زرد برادر شغال است، شما بیجابه ایالات متحده امریکاچشم دوخته اید ازانصاف وعدل ودادابن ابروحشت دربوستیاي مظلوم

ص (۳)

ژباړه اولنډیز: فضل مولا "لهون"

متحده ابراهیمي ریاستونه

یا

دستراسرائیلي هیواد نوي نوم

دنړیوال صیهونیزم د (ستراسرائیلي هیواد) خوب یونوي شکل غوره کړي دي او اوس دغه خوب دمتحده ابراهیمي ریاستونو ترنامه لاندي عملي کیږي ،دیوازینې نړیوال سترمادي ځواك (امریکا) نظامي ،اقتصادي اوسیاسي واکي ترپردي لاندي د اسرائیلو په ولکه کښې دي ،اودصیهونستانو ددغه پخواني ارمان دعملي کیدو له پاره په پوره چټکتیا سره ترې استفاده کیږي.

دستراسرائیلي هیواد له پاره د"متحده ابراهیمي ریاستونو " نوم له دي امله په زړه پوري دي ،چې دحضرت ابراهیم (ع) په حواله دغه نوم دعربو له پاره هم دمنلو وړدي .لکه چې همدا اوس اوس عربي هیوادونه پر له پسې اسرائیلي حکومت په رسمیت پیژني اوله هغې سره دجنگ حالت پاي ته رسوي اودنوبو روابطوپر اساس ورسره تړونونه کوي مصرچې داسرائیلو ترټولو زیات مخالف هیواد و ،ترټولورومبي دنړیوال کفریه دغه ځمکرنگي دام کښې راگیرشو، وروسته د اسرائیلو دویم ستردښمن (یاسرعرفات) دهغوي ولکې ته ورغی او بیاچې کله داردن شاه حسین داسرائیلو پرخاوره الوت کاوه ،نودځپل هیواد اقتصادي پرمختگ یې ترسترگو شو،اواوس دسوریې پرحافظ الاسد" د تابعداري دموټه اچول کیږي ،وروسته به د لبنان نمبروي ،اوپردي باید ویوهیږو چې داسرائیلو

دمتحده ابراهیمي ریاستونو پلان به په همدې ځاي کښې نه تم کیږي ،بلکې دخلیج له عربي اماراتونه واخله تر الجزایر اومراکش پوري به خبریږي ، اسرائیلو خوپاکستان ته هم د"زیتون " دیباخ سوغات رالیږلي دي ، په داسي حال کښې چې پاکستان کوم عربي هیواد هم نه دي ،خوبیا یې هم ددغه هیواد راضي کول ضروري گڼلي دي.

دعراق پر خلاف دېزرت ستادم (بیدیاني توبان) دمتحده ابراهیمي ریاستونو دمنځته راتگ له پاره لاره هواره کړي ده،ددغه پلان له مخي داسرائیلي حکومت اعلي سرپرست (امریکا) په لومړي سرکښي دابراهیمي ملت مرکز حجاز اوخلیجي هیوادونه ترځپل نظامي اواقتصادي کنټرول لاندي راوستي دي ،پردې خبره هر څوك پوهیږي چې امریکا ځپل ناولي اسرائیلي حکومت ته دسیمي دهیوادو دقدرت واگي په لاس کښي ورکول غواړي ، او په اصل کښي دغه ټول هیوادونه دمتحده ابراهیمي ریاستونودقیام په لور روان کړاي شوي

دي ترکیه ،ایران اوپاکستان دعجمیتوب له امله په دغه پلان کښي شامل نه دي ، خو داخبره صحیح ده چې دغو هیوادوکښي هم اسرائیل ځپلو اغیزو لرلو ته اړتیا لري ،چې ددغوهیوادوله لاري ،منځني آسیا زرخیزو اومعدنیاتو لرونکیو هیوادوته لاره پیداکړي ، او په دي ډول امریکااو اسرائیلو ته د روس او چین سرحداتو ته د رسیدلو شرایط برابرشي ، لکه په روسیه کي داسرائیلو سفیر چې ویلي دي ، پاکستان دسویلي آسیا یومهم هیواد دي ، ددغه اهمیت له امله نور له پاکستان سره ددوستانه اړیکو غوښتونکي یو، اسرائیلي سفیر ځرگنده کړي ده ،چې کوم هیوادونه چې داسرائیلو دښمنان وو، اوس هغه له اسرائیلو سره دوستان شوي دي ، دپاکستان اواسرائیلو ترمنځ خوکوم ټك هم پیښ شوي نه دي ، په همدي خاطر باید دواړه هیوادونه دوستانه اړیکو ته وده ورکړي ،دغه لوري ته دهرگام پورته کولو هرکلي کوو.

په همدي ورځ په هند کښي داسرائیلو سفیر" افریم داوك " وویل "مور د تروریزم پرخلاف له هر هیواد سره مرستي کولوته تیاریو، داخبره تومورړي هندي صنعتکارانو اوسوداگروته دویناپروخت ددي پوښتني په ځواب کښي وکړه چې هند د تروریزم پرخلاف دمقابلي له پاره له اسرائیلو نه مرسته غوښتي اویااسرائیلو ورته د مرستي وړاندیز کړي اوکه نه ؟

دمتحده ابراهیمي ریاستونو له قیام وروسته اویادغه پلان دعملي کیدلو ترڅنگ د "پان اسلامیزم " تر نامه لاندي دمنځني آسیا د عجمي اسلامي هیوادونو دفتح کولو پلان هم عملي کیداي شي ، ددغه امریکایي اسرائیلي پان اسلامیزم هدف به مسلمانانو ته دوکه ورکول وي چې سید جمال الدین "افغاني " اونورو مسلمانان چې په دي لړکښي کوم خوبونه لیدلي وواود عثماني خلافت له ټوټه ټوټه کیدلو وروسته چې داسلامي نړي دیو ځای کولو له پاره کوم کوښښونه شوي دي ،

اوس دهغي دپوره کولو وخت رارسیدلي دي ، په داسي حال کښي چې دا به دامریکا ،اسرائیلو دپان اسلامیزم ترنامه لاندي یوداسي "زندي " وي چې مسلمانان به یکښي له راگیریدلووروسته دتل له پاره ځپل ځانگړي پیژندگلوي اوحیثیت له لاسه ورکوي . داردن اواسرائیلو سرحدونه له تیمایي سلیزي وروسته پرانستل شوي دي اودجگړي دتیارسي هغه حالت هم پاي ته رسیدلي دي ،چې د اسرائیلو حکومت له منځته راتگ نه یې ترددي وخته دوام لاره ،اوتردي ټولو بدتریته یې لاداچې دمسلمانانو مقدس ښار (بیت المقدس) نه یاسرعرفات ته ورکړل شو اونه د اردن شاه حسین ته ، دغه ښار اوس هم داسرائیلي حکومت مرکز دي ، بیا هم روغې جوړې رواني دي اوکیږي ،داټول دخاموشي دیپلوماسي کرل شوي گلان دي چې له جعلسازي اودوکي ورکولو پرته بل هیڅ نه دي ، په لبنان اوفلسطین کي دیاروتو لوگیو وریځې جوړې کړي وي اودعربو ودانې له خاورو سره خاوري کیدلي ، خو دسکندناویایي هیوادو پرواورینه ځکه د خاموشي دیپلوماسي پروسه روانه وه ، له کمپ دیوید معاهدي نه چې دمصراواسرائیلوترمنځ دکوموارېکو پیلامه شوي وه ،هغې اوس په گلانو اومیوونیولو پیل کړي دي، ویل کیږي چې دغه لړي دټولو له پاره گټوره ده ، خودانه ویل کیږي ،چې دحالاتوواگي

(۳)مخ

دائتلاف له اړخه دملګروملتودپلاوي دهاند دوهم ځلي سبوتاژ

غلام حضرت "شاکر"
دوهمه برخه

، خودريغه چي دملګروملتواداري به خوبري پړه واچوله نه يي له جهان څخه

وغوښتل ،چي لدغي غاصبي اداري سره ديپلوماتيکي اړيکي وشلوي او مرستي ورسره ونه کړي ،هغه ځل دملګروملتو په سکوت دغه غاصب اوجابر چارواکي دادي دومره تشجيع شول ،چي اوس په ځغرده دمحمود مستيري هائد ناکاموي .زه باوورلرم چي که په تير ځل ملګروملتولدغي اداري سره ، دسياسي تړښي باتنيبه روش غوره کړي واي ، زمونږ لانجه لادمخه غوڅه شوي وه اوداخلي په دغوښاغلو په دومره سپين سترګي دمحمود مستيري هڅي ، له ناميندي سره نه مخامخ کولي . نه يواځي په هغ تيرځل دملګروملتو داداري لخوا دائتلاف مشوبين ګرم - ونه پيژندل شول
لاچي هغه ملکونه ،چي دملګروملتواداره يي په چورليځ ګرځي لکه امريکا،روسيه ،فرانسه،هند او... دائتلافي اداري ترشاودريدل.
اودادي تر نه هم په شريکه دغه اداره ټمويلوي ،حمايه کوي يي اوترشايي ولاړدي دادوه کاله روسيه ائتلافي اداري ته پيسي ورکوي اوامريکايي روسالو ته يي ډالرو ددغو پيسو مصارف ورکوي ، اوهمدااوس فرانسه اوهند په ځغرده دائتلاف ترشاولاړه ي،خوله دي تهلو سره سره ، دملګروملتو اداره غوږونه کاڼه اچوي ترکومه ځايه چي دائتلاف لوبغاړو له خوادجنرال دوستم دنمايندګانو په ګډون داعتراض خبره ده ،داهسي سياسي ده،چي دغه ښاغلي خپله ګرمه پکي پټوي دوي چي دسولي هرراز هلي ځلي ردوي دايي يوه بهانه نيولي ،چي ګويا دجنرال دوستم دنمايندګانو ګډون ددي سبب شوي چي ائتلافيان دمحمود مستيري دسولي دهلو ځلو سره هم غړي نه شول .
زموږدوطنوالو به په يادوي چي کله استاد رباني دحل وعقد په نوم شوري جوړوله ، جنرال دوستم ته يي په خپل قلم رسمي ليک ورليږلي و، په هغه کي يي ليکلي و چي بايد جنرال دوستم ،دحل وعقد شوري ته خپل نمايندګان راوليږي . دالېك دشهادت ورځپاڼي په ځرمپاشتي مخکي ګنه کي نشرشو.اوپه حل وعقد غونډه کي دربانی په بلنه دجنرال دوستم نمايندګانو ګډون هم وکړ- په هغهٔ مجلس کي چي دحل وعقد په نامه جوړشوی ،پخپله سياف اودجنرال دوستم نمايندګانو ،په يو ځاي ګډون وکړ ! هلته نه رباني له دوستم سره مخالفت لاره اونه سياف ،خواوس چي جنرال دوستم دهغومخالف دي ،دوي ورسره دسولي په غونډه کي يوځاي کښيناستل ردوي يقيني خبره داده ،چي دائتلاف لوبغاړي دهيواد په اوسني الميي راضي دي او نه غواړي ،چي زموږ دهيواد په فضا کښي دسولي اوآرامي کوتره والوزي .
که رښتيا هم دي خلکوته سوله مطرح واي ،نو دسرطان په (٦١) نيټه به يي ،چي درياست دوره يي پوره شوه ،استعفي کړيوه ،داولي په زوريوځل بيا دملت په اوږوسپاره شول ؟
اوداولي يي دا اوس هم دخپل نامقدس اقتدار ددوام لپاره سياسي ډغل پيل کړي؟

دتيرکال دتلي دمياشتي په (١٧) نيټه ،داتحاد علماي افغانستان دمولوي صيب ذاکري،په مشري ،حکمتيارصيب اواحمد شاه مسعود ته دسولي په اړه يو تحريري وړانديز وړاندي کړ ، حکمتيارصيب دهغه تحريري ځواب داسي ورکړ:
" شوري محترم اتحاد علماء افغانستان !
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !
درواېطه بامطالب مندرجه مکتوب مؤرخ ١٧ ر ١٣٧٢،٨ تان بااحترام عرض مي کنم :
الف :با اعطاي صلاحيت عام وتام حل وفصل همه قضاياي متنازع فيه مطابق شريعت اسلامي به هيئت حکم صد درصد موافقم واطمينان ميدهيم که نسبت به فيصله هاي هيئت التزام خواهيم ورزيد.
ب : باتوقف جنګ واعلان اوربند موافقم باباز شدن همه راه هاي مواصلاتي توافق داريم .
و...
داحمدشاه مسعود ځواب دعقرب په (٢٩) ماښام مولناذاکري له بي بي سي سره په مرکه کي داسي بيان کړ :« احمد شاه مسعود ووېل چي مخکي لدي فيصلي سره موافق وم ولي اوس بل نظرلرم ... ترڅو چي حکمتيارتګاب نه وي خوشي کړي اويا يي زه په زور او جنګ له تګاب څخه ونه باسم ، اوربند ممکن ندي ،پدي صورت کي بنايي جنګ دوه کاله دوام وکړي .» ګوګه دائتلاف لوبغاړو سوله غوښتلاي ،هملته به يي لکه څنګه چي حکمتيار صيب حکم هيئت ته اختيار ورکاوه دوي به هم اختيارورکړي و اوپدي ترتيب به دعلماوو له خوادافغانستان غمېزي لنهون پيداکړي و داتول داثابتوي چي دائتلاف په اوږوکي شګي دي اودجنرال دوستم له نمايندګانو سره مخالفت يي يوه بهانه ده .
#####

د سرمقالي پاتي برخه

